**د کب ۲۷مه، د خبریالانو ملي ورځې په پار د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر د مبارکۍ پیغام!**




د کب ۲۷مه، د خبریالانو ملي ورځې په پار د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر د مبارکۍ پیغام!
د کب ۲۷مه، د خبریالانو ملي ورځ دې هېواد ملي کټو، ارزښتونو ته ژمنو او حقیقت پلټوونکو خبریالانو ته مبارک شي.
خبریال د ولس رسا غږ دی. خبریال دی چې په ملي او نړیواله کچه حقیقتونه پلټي، د وګړو له ناوړه کړنو پرده پورته کوي، د فساد او ناروا پر ضد مبارزه کوي او د ټولني د هوسایني او عامه پوهاوي په برخه کې ستر مسوولیتونه ترسره کوي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د لومړی درجې مسوول په توګه، له ملي او نړیوالو رسنیو څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې د شهیدانو ورثې او معلولینو په تړاو د معلوماتو خپرولو او عامه پوهاوي برخو کې یې همېشه رغنده رول لوبولی دی.
هیله ده چې بیا هم افغان او نړیوال خبریالان د افغانستان جنګ ځپلي ولس په ځانګړي ډول، د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو د حقونو، په ټولنه کې هغوی ته د درناوي حاصلولو او له هغوی سره د مناسب چلند کولو لپاره د خپلو خپرونو له لارې عامه پوهاوی زیات کړي او په نشراتو کې ددې قشر لپاره ځانګړې پاملرنه وکړي.
د افغان خبریال د ژوند او نظر ازادۍ د خوندیتوب په هیله!

***پوهنمل حمیدالله فاروقي***
***د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر***